مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند نصرالله «ستانکزی» ۲۰۲۲/۰۴/۲۹

د خوشال خان په فراقنامه کې

پنالوژیک مفاهیم

لومړی برخه

فراقنامه د پښتو ژبې د ستر شاعر خوشال ختک؛ هغه شعري مجموعه ده چې د دغه لوی فرهنګي، سیاسي او ټولنیز شخصیت؛ د زنداني کیدو او نظر بند په کالونو کې د مغلی اورنګزیب عالمګیر په زندان کې ویلی ده، لکه چې په خپله په دې هکله وایي:

دوه سو شل بیتونه یوولس بنده ښه
ما په رنتهور کې د زړه تاوو پرې سړاوه

په دغه شعري مجموعه کې، د زوندانه د نورو برخو د انعکاس تر څنګه؛ د اوسنۍ زمانې په اصطلاح؛ ځینې پنالوژیک (جزا پیژندنه) مفاهیم په کې منعکس شوي دي.

خوشال خان د ۱۰۷۴ هجري قمري کې، په پیښور کې ونیول شو؛ لکه څرنګه چې دی په خپله وایي:

زر څلور اویا هجرت ؤ
هغه کال چې بندیوان شوم

او د استاد حبیبي مرحوم له قوله شپږ کاله یې په بند کې تیر کړل.
دا دی په دې لنډه لیکنه کې هڅه شوې چې، په لنډو ټکو کې فراقنامې ته؛ د پنالوژي د علم له اړخه لنډه کتنه شوې ده.

د بندي تعذیب:

خوشال بابا په فراقنامه کې د خپل نیولو حال بیانوي، دی او په اوله لحظه کې چې نیول کیږي، په پښو کې یې زولنې اچول کیږي، لکه چې وایي:

کوز یې کړم له کوټه چې یې کښیوتم په جال
زر یې را پښو کړې پنج سیرۍ بیړۍ کوټوال

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مصادره:

د خوشال له اشعارو داسې څرګندیږي چې، مغلي بادشاهانو د مجرمینو او مخالفینو املاک مصادره کول، لکه چې وایي:

ملک یې زما ورکړ نا لایق کړل سردار
کور او خیل خانه اولس همه شو خبردار

رشوت:

په لومړي سر کې کله چې خوشال خان نیول کیږي، دوې میاشتې په پیښور کې زنداني وي، د صوبې مشر ترې د رشوت غوښتنه کوي، خوشال یې نه مني او په پای کې یې هندوستان ته استوي. په دې هکله په فراقنامه کې داسې راغلي دي:

وغوښتی پنځوس زره روپۍ صوبه دار
ما وې در به نه کړم یو ـ یو چک نه یو دینار

تشهیر:

د خوشال بابا له دغه بیته داسې ښکاري چې مجرم په عام محضر کې تشهیریده:

راغلم تر نو ښاره په سبا په دا شان
خلق په ژړا په ننداره راته حیران

یا:

راولو په نړۍ نندارچي مردان زنان
هسې رنګه ولاړ وو، لکه بې روحه بتان

راغلو په ګرمۍ د خیراباد پیچان، پیچان
پورې که راپورې خلق واړه نندارچیان

ضمانت:

د خوشال خان د فراقنامې په استناد، د زنداني ضمانت د مغولو په دوران کې معمول ؤ؛ ځکه د خوشال ضمانت مطرح کیږي، خو نه ده منل شوی. لکه چې وایي:

ډیر رد و بدل شو په دا منځ کې ځواب سوال
حکم د خلاصۍ په ضمان وشو په اجمال

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سیاسي بندي:

د فراقنامي له متنه ښکاري چې خوشال سیاسي بندي دی او په خپله ګناه هم نه پوهیږي، لکه چې وایي:

په ناحق د اورنګزیب په بند بندی یم
خدای خبر دی په تهمت او په بهتان

زه په ځان کی ګناه نه وینم په خدای ږو
ولې نور خلق خبرې کا شان، شان

د ګناه مې سررشته نه ده معلومه
مګر خپل هنر د ځان وینم تاوان

د لومړی برخې پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ